مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نظر محمد مطمئن ۲۰۱۸/۰۸/۰۶

# د طالب او امریکا مخامخ خبرې او غیر مسؤلانه څرګندونې

د روان کال، جولای میاشت په درېمه اونۍ کې، له ۱۷ کلنې جګړې وروسته، د امریکا د بهرنیو چارو، پینټاګون او سي آی اې ګډ هیئت په دوحه کې د طالبانو د سیاسي دفتر له مشرانو سره ناسته وکړه، دوه ورځې مسلسل د دوی تر منځ یوازې د راتلونکي اړوند رغنده خبرې وشوې، او دواړه لوري تمه لري چې همدا خبرې به دوام پیدا کړي.
نه یوازې افغانان، بلکې د نړۍ ډېر ملتونه همدا ستونزه لري چې د جګړې له بریا وروسته په سیاسي برخه کې ناکام ثابت شوې. افغان ولس د طالبانو ملاتړ وکړ، او ۱۷ کاله له امریکا سره جګړه وشوه، او د امریکا د ولسمشر ټرمپ نظامي تګلاره په امریکا، افغانستان او نړۍ کې تر سوال لاندې راغله، له بشپړې ناکامۍ سره مخ وه، امریکا غوښتل چې د ټرمپ د تګلارې د ارزونې لپاره خپل امریکايي ولس ته کومه لاسته راوړنه وښيي.

## اوربند

د ۲۰۱۷ ز کال ډسمبر میاشت کې په اوسلو کې، له افغانستان سره د نړیوالو مرستندویه هیوادونو غونډه کې میرمن الیس ویلز له پخواني طالب چارواکي سره له خبرو وروسته په دې وپوهول شوه چې طالبان د کوم هیواد تر نفوذ لاندې نه دي، او نه هم په حکومت کې د ونډې اخیستلو او شراکت هوډ لري.
یو په بل پسې لوړ پوړي امریکایي جنرالان کابل ته راغلل، دلته یې له ځینو پخوانیو په خپل دریځ پاتې طالبانو سره لیدنې وشوې، د امریکایي جنرالانو لخوا د اوربند طرحه وړاندې شوه، ډاکټر غني اته ورځنی اوربند اعلان کړ، او په کوچنې اختر کې د طالبانو له خوا درې ورځنی اوربند، چې تر ډېره اوربند په کور دننه او نړیواله کچه د طالبانو په ګټه تمام شو.
امریکایي، افغان او ناټو چارواکي تمه لري چې راتلونکي لوی اختر کې به هم اوربند وشي، تر دې مهاله طالبانو د اوربند اړوند څرګندونې نه دي کړې، ولې طالبان به په دې فکر کوي چې د تېر اختر اوربند لاس ته راوړنې وساتي.

## مخامخ خبرې او رسنۍ

بالاخره هغه څه چې افغان ولس یې تمه درلودله، چې د طالبانو او امریکا تر منځ مخامخ خبرې وشي، امریکا ومنله، امریکایي لوړ پوړې چارواکي او جنرالان کابل ته راغلل، همدلته کابل او په ځینو نړیوالو غونډو کې یې له ځینو بې پلوه افغانانو سره لیدنې وشوې، دې پایلې ته ورسیدل چې له طالبانو سره مخامخ خبرې د افغان کشالې او ستونزو د حل یوازینۍ لاره ده.
ستونزه داده چې ځینې کورنۍ او ځینې بهرنۍ رسنۍ د طالبانو او امریکا د مخامخ خبرو اړوند منفي راپوړونه ورکوي، ذهنتونه مغشوش کوي، داسې څرګندونې چې د افغان سولې اړوند منفي تاثیرات لري.
د افغان سولې اړوند تر ټولو منفي راپور د اګسټ پر ۲مه، د ډیلي بیسټ راپور وو، چې د میرمن رافیل او کولینډا له خولې ویل شوې چې طالبان به په مشروط ډول د بهرنیو پوځیانو له شتون سره هوکړه وکړي.
میرمن رافیل چې اوس مهال رسمي دنده نه لري، یو وخت په اسلام آباد کې د امریکا سفیره وه، او کولینډا چې یو وخت په پنټاګون کې مهم شخص وو، دواړو د خپل شهرت له امله د سولې اړوند داسې څرګندونې کړې، په باوري ډول د طالبانو او امریکا مخامخ خبرې زیانمنې کولای شي، او که چیرته بیا هم د دوی په خوله امریکا خپله غیر رسمي تګلاره وړاندې کوي، نو امریکا هغه تیروتنه کوي چې په تیرو ۱۷ کلونو کې یې وکړې او کومه نتیجه یې نه درلودله.
ما (لیکوال) او ډاکټر فیض محمد ځلاند د جون میاشتې په وروستي اونۍ کې دوه ځله په کابل کې د امریکا پخوانۍ د بهرنیو چارو مرستیال وزیره رابن رافیل، د پګواش اداری مشر ښاغلی پاولو او متقاعد ډګروال کریستوفر کولینډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

سره ولیدل، هغوی د ګډ حکومت له مشر ډاکټر غني، مخکیني ولسمشر حامد کرزي، استاد سیاف، انجنیر حکمتیار، یونس قانوني، احمد ضیا مسعود او ګڼو افغان سیاستوالو سره لیدنې درلودلې.
په وروستی ناسته کې خلاند او ما (مطمئن) له دوی څخه دا پوښتنه وکړه، چې تاسې له افغان چارواکو او سیاستوالو سره ناستې درلودلې، کوم ټکې دي چې تاسې ته ویل شوې، او د افغان کشالې حل پکې را وتلای شي.

## ښاغلي پاولو وویل:

١ ــ د امریکا او طالبانو مخامخ خبرې
٢ ــ مذاکراتو کې د ټولو سیاسي ګوندونو شتون
٣ - حکومت کې مالي او اداري فساد د سولې مخ کې خنډ
۴ ــ راتلونکې کې د اوربند لپاره کار کول، او د پاکستان څخه مرسته غوښتل
۵ - د لنډ مهاله حکومت جوړول
۶ ــ د بهرنیو ځواکونو شتون، د هغوی وتلو اړوند د سیاسي ګوندونو اندیښنه، چې بیا ځل د نوییمو کلونو تکرار (کورنی جګړه) ونه شي.
ډیلي بسټ لیکلي چې میرمن رافیل او کولینډا په دوحه کې له طالبانو سره درې ځله لیدلي، څومره چې موږ معلومات وکړل، دوی دواړو له اصلي طالب ادرسونو سره نه دي لیدلي او نه هم طالبانو د بهرنیو پوځیانو د شتون اړوند له دوی سره دا ډول خبرې کړي.
اوس چې د افغان سولې اړوند پرمختګ لیدل کیږي، ځینې کړی به هڅه کوي چې همدا پروسه ټکنی او ځنډنی کړي، افغان حکومت لا هم تمه لري چې د ځینو ادرسونو په مرسته له طالبانو سره پټې ناستې وکړي، او د هغې ډول سولې تمه لري کوم چې د حکومت او حزب اسلامي تر منځ وشوه.

## د طالبانو سکوت

امریکایي رسنی د امریکا ــ طالبانو مخامخ خبرو اړوند بېلابېل راپورونه ورکوي، خو طالبان پټه خوله دي، په کار وه چې طالبانو هم په دې اړه څرګندونې کړې وای، ځکه هغه څه چې دوی غوښتل، لومړی قدم کې یې تر لاسه کړل، او امریکایان مخامخ خبرو ته چمتو شول.
ولې برعکس امریکایي رسنی بیا راپورونه ورکوي چې امریکایان خپل هدف ته ورسېدل، طالبان د جګړې د شدت له امله چمتو شوې چې د بهرنیو پوځیانو حد اقل یوه اډه ومنې.
لا هم په پنټاګون او د امریکا بهرنیو چارو وزارت کې د ځینو رسمي کارکوونکو لخوا دا ږغ بدرګه کیږي چې طالبان دي له امریکا سره حد اقل یوه اډه ومنې، همهغه خبرې کوي کوم چې د رابن رافیل او کولینډا له خولې په ډیلي بیسټ کې ویل شوې.
ستونزه داده چې طالبان لا هم په سیاسي برخه کې ستونزې لري، او دا د پرتلې وړ هم نه ده چې طالبان به له امریکا سره د ډیپلوماسي له مخې ښه په مخ ولاړ شي.
یوه خبره چې زه (لیکوال) یې ډیر ځله کوم، په خبرو کې د طالبانو رښتونوالی ، او رښه تګلاره، چې ناسمه ډیپلوماسي، چل، فریب او هاخوا دیخوا خبرې پکې ځای نه لري، طالبانو ته ډیره ګټه کړې، د امریکا بخت دلته خراب دی چې له داسې دبښمن سره مخ ده، چې هغوی له امریکا سره په نا سمې ډیپلوماسي او وخت ضایع کولو باور نه لري.
طالبان رښه خبره او رښه پریکړه غواړي، که له امریکا سره د ځینو هیوادونو او ډلو په څیر د وخت ضایع کولو او نامناسبې ډیپلوماسی لاره ونیسي، پرته له شکه، امریکا به د افغان سولې پروسه دومره بدرنګه کړي، لکه د فلسطین او اسرائیلو د سولې بې پایلې پروسه.
په کار نه ده چې طالبان د ډیپلوماسي له کارولو ویره ولري، پښتو کې متل دی: " بلا به په مخ وهي"، دا معنی چې تېښته به نه کوي، مخامخ به پرې ورځي.
دا ډول په اسلام کې هم سالمه ډیپلوماسي کارول مخښه لري، د خبرو، اړیکو او نرمو لارو په وسیله د ستونزو حل او هدف ته رسېدلو له پاره ښې رغنده او کارنده ډیپلوماسي ته اړتیا لیدل کیږي.

## طالب او د مسؤلیت احساس

سوله تر جګړې سخته ده، او په احتیاط باید قدمونه واخیستل شي، په کار خو دا وه چې د طالبانو د سیاسي کمیسون غړو وار له مخه په کور دننه، امریکا، اروپا او نورو سیمو کې داسې افغانان په نښه کړي وای چې هغوی د سولې اړوند پوهاوی او تجربه لري، او د هغوی څخه یې ډیر څه اوریدلي وای، داچې عملي وي یا نه، دا بیا د طالب مشرانو خپل واک وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

داسي ښکاري چي لا هم طالب فکر کوي چي هر وخت باید په دوی پسي خلک وګرځي، دوی اړتیا نه لري چي د کوم پوه او تجربه لرونکي افغان له نظریاتو او پوهاوي څخه برخمن شي، ولي په سیاسي لحاظ، او د وخت په دي حساس پړاو کي په کار ده چي طالبان تر پخوا لا زیات په سیاسي، مطبوعاتي او نورو برخو کي فعاله شي، او له افغان سیاستوالو سره خپلي رغنده اړیکي ګرندۍ کړي.
سکوت، نه حرکت، نه فعالیت، هغه اندیښني او نیوکي دي چي پر طالب سیاستوالو کیږي، نه یوازي داچي طالبان له مصلح افغانانو سره اړیکي وساتي، په کار ده چي له خپلو مخالفو لورو سره ډیري تیزي اړیکي جوړي کړي، له امریکا سره مخامخ خبري کرده ستونزه نه شي حل کولای، هغه څه چي په امریکا پوري اړه لري، هغه کار به وشي، ولي دلته په کور دننه د شمال ټلوالي پخواني جوړښت غړي، د حزب اسلامي، نوي سیاسي ګوندونو او ځوانو مدني حرکتونو سره اړیکو جوړولو، د هغوی اندیښني لیري کیدو ته ژوره اړتیا لیدل کیږي.
د ایران، پاکستان، منځنۍ آسیا هیوادونو، روسیي او هند اندیښني لا هم پر ځای پاتي دي، اوس چي طالبان له امریکا سره مخامخ خبري کوي، اړینه ده چي همهاله له یادو سیمئیزو هیواد ونو سره د افغانستان راتلونکي اړوند او دهغوی اندیښنو ته قانع کوونکي ځواب ولري.

## کوم ډول حکومتي جوړښت

ښکاره ده چي په یوازي ډول نه طالب، نه حکومت، نه شمال ټلواله او نه هم سیاسي ګوندونه حکومت کولای شي، اړینه ده چي افغان شموله داسي نظام چي هر افغان پکي خپل ځان وویني جوړ شي.
د دي لپاره طالب او د سیاسي ګوندونو مشرانو، هر لوري ته په کار ده چي یو له بل سره رغنده اړیکي جوړي او د راتلونکي په اړه یو له بل سره نظریات شریک کړي.
افغان حکومت په ټوله معنی د لنډ مهاله حکومت مخالف دی، او مخالفت به یي کوي، هڅه به کوي چي امریکا بیاځل که دوی وتوانیږي قانع کړي چي له طالبانو سره مخامخ خبرو کي ډیر مخته ولاړ نه شي، پېل یي وکړي، او نور مسایل پریږدي چي د افغان حکومت تر مشري لاندي مخکي یوړل شي. ولي دا به په دي معنی وي چي جګړه اوږدیږي، که ټاکني کیږي، او د ټاکنو پر بنیاد راتلونکی ۵ کلن حکومت ټاکل کیږی، په دي معنی چي موږ ۵ نور کلونه هم سولي ته نه شو رسیدای او په جګړه کي به ښکېل پاتي شو.
اوس چي په کور دننه ډیر سیاسي ګوندونه، نړیواله ټولنه او حتی امریکا دي پایلي ته رسیدلي چي د افغان جګړي د ختم یوه لاره لنډمهاله حکومت دی، په دي اړوند افغان لوړ پوړو چاروا کو ته په کار ده چي حوصله، زغم او انعطاف ولري.
که امریکا او افغان حکومت هڅه کوي چي طالبان هم د حزب اسلامي په څیر له افغان حکومت سره د سولي پروسي د لاري جګړي ته خاتمه ورکړي، د حکومت برخه شي، او راتلونکي کي د یو سیاسي جوړښت په بڼه په ټاکنو کي برخه ولري، په دي معنی ده چي لا هم سولي ته ژمنتیا به نه وي، ځکه د افغان حکومت په چوکاټ کي له امریکا، ناټو، هند، بریتانیا، پاکستان او ځینو نورو هیوادونو سره بېلابېل تړونونه منل شوي، امریکا او نړیوال هڅه کوي چي همدا شوي تړونونه په خپل حال پاتي شي، او مشروعیت یي تر سوال لاندي رانه شي.
که پر لنډ مهاله حکومت د امریکا – طالب او افغان سیاسي ډلو ترمنځ توافق کیږي، په دي معنی چي شوي تړونونه به لغوه اعلان کیږي او په راتلونکي کي به د یو منتخب حکومت لپاره په ګډه ټول افغانان کار کوي، تر څو افغان شموله نظام ولري.
تمه ده چي امریکا د سولي مذاکراتو اړوند د طالبانو لیوالتیا، صداقت او رڼه تګلاره درک کړي، خپله هم رغنده تګلاره غوره کړي، له چله ډکي ډیپلوماسي او د سولي په نوم د جګړي د اوږدیدو طرحي کوم لوری ونه لري.
همدارنګه طالبان هم د سکوت له حالت څخه راووځي، سولي ته د رسیدو لپاره خپله تګلاره له افغان ولس سره شریکه او د افغانانو نظریاتو او تجربو څخه په دي حساس وخت کي سمه ګټه پورته کړي.
طالبانو ته په کار ده چي تحرک او ابتکار وښیي، بلکي د ننۍ نړۍ پر پېچلي ډیپلوماسي هم ځان پوه کړي، د مذاکراتو پر پیچلتیاوو غور وکړي، خپل ولس او نړۍ ته خپل پیغام په سم ډول سره ورسوي، همدارنګه د مقابل لوري او نړۍ پیغام هم په سم ډول واخلي او پر خپل وخت لاس په کار شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ